


د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه


د نشر نيټه : ۲ مې ۲۰۱۳ ميلادی


# ځار شم

پرېږده چي

د يادونو

په سيند کې يې

لاهو شم

پرېږده چي

دهغه په دښتوکي

په ګدا شم

پرېږده چي

د هغه په ځمو کې

د غنمو پشان

وکرل شم

راپيدا شم

پرېږده چې

د هغه د هريو

پولې

په خندو کې

بنده کی شم

پرېږده چې

د هغه په ونوکې

لکه شنکره تېوت

په بنوريدا شم

پرېږده چې

دهر کرل شو

غنمو سره يې

لکه پلې

پيروته او

اخنك پشان

هويدا شم

پرېږه ده چې

دپيازو په هرپټې کې يې

خيشاوه شم

پرېږده چې

د شوتلو پشان

د هغه د هر کور

د بام

په سر

لکه سابه وچ شم

پوخ شم

پرېږده چې

دوريجو پشان يې

په هرخوله کې

شات شم

پرېږده چې

د پنير پشان يې

په مالکه کې

وسوزېږم

پاك شم

پرېږده چې

لکه ګوړې

او پتاسو پشان يې

هر کور کې يې

د خولې

خوند شم

پرېږده چې

د هر عالم نه يې

فدا شم

پرېږده چې

په زيارتونو کې يې

په سجده شم

په ثنا شم

په دعا شم

دسمسور لغمانه ځار شم

*****

مجيب الرحمن « خطيبي »

کابل ـ افغانستان

بازگشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org-